مصطفی پسرلی


۲۰۲۰/۰۳/۰۲

# غزل

د ژوند شیبې مې د پردیو دښمنۍ وخوړې
هرې خندا کښې مې بې واره څو سلګۍ وخوړې

نن پښتنو په اتفاق، بې اتفاقي غوره کړه
همداسې پریکړو د پښتون د قام پګړۍ وخوړې

د مرګ په لوبه کښې د ساندو آوازونه اورم
شور د نغمو د تور ټوپک تورې شپیلۍ وخوړې

کلي مو سوځي په ښارونو، غرونو اور بلېږي
هوس د حورو د وطن بلها ځوانۍ وخوړې

یه پسرلېه ریښتیا مه وایه چې سر به وخورې
څوک چې ریښتیا وایې هم هغو ککرۍ وخوړې

مصطفی پسرلی
01/03/2020




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ